
CORE
Cultural Orientation Resource Exchange



# د کډوالو لپاره سرچينې




E. Fichtner/IRC

## د امریکا متحده آیالاتو کې د مهاجرینو لپاره ډیجیټل پوهاوي

ډیجیټل ټیکنالوژۍ په ټوله نړۍ کې ژوند بدل کړی دی. دا به د امریکا متحده آیالاتو کې ستاسې ژوند باندې هم اغیزه وکړي، حتی که تاسې د کمپیوټر او انټرنیټ سره اشنا هم نه اوسئ. د ځینې لومړني ډیجیټل مهارتونو زده کول او د ډیجیټل خطرونو او فرصتونو نه خبریدل تاسې سره مرسته کوي چې د خپل بیا میشتیدنې‌پرمهال معلوماتو او خدمتونو ته په خوندي ډول لاسرسی ولرئ.

### ډیجیټل ټیکنالوژي هر چیرې ده

د امریکا متحده آیالاتو کې ډیجیټل ټیکنالوژي د بیلابیل فعالیتونو لپاره کارول کیږي. دا تاسې سره مرسته کولی شي دنده ومومئ او غوښتنه ورته ولیږئ، بیلونه تادیه کړئ او خپل بانکي حسابونه مدیریت کړئ، د خپل ماشوم ښوونځي کې دندې او برنامې تعقیب کړئ، او د حکومت او نورو ادارو لخوا وړاندې کیدونکي معلومات او خدمتونو ته لاسرسی ولرئ. ځینې امریکایان ډیجیټل ټیکنالوژي د پیرود، سالم پاتې کیدو، د نوي شیانو زده کولو او ساعتیرۍ لپاره هم کاروي. دا ټول فعالیتونه آنلاین د یوه کمپیوټر، تلیفون یا ټابلیټ په کارولو سره ترسره کیدی شي.

### راز ساتنه

په ځینې مواردو کې، انټرنیټ لکه د عامه څلور لارې یا بازار په څیر دی. که تاسې هلته ورشئ، خلک کولی شي تاسې ووینې او وګوري چې تاسې څه کوئ. دا ممکن کوم بد شی نه وي؛ که په بازار کې تاسې په سینګال پسې ګرځئ، نو شاید د یوه پیرودونکي تاسې ته پام شي او تاسې ته په تخفیف سره یوه ښه جوړه سینډل وړاندیز کړي. په انټرنیټ کې خلک، یا شرکتونه دې ته ورته څه کولی شي؛ هغوی ستاسې د آنلاین فعالیتونو په اړه معلومات راټولولی شي او دغه معلومات اعلان کونکو او نورو شرکتونو ته لیږي څوک چې غواړي تاسې باندې کوم څه وپلوري. په ډیجیټل وسایلو کې نوې اوزار او بنې وړاندې کیږي چې په مرسته یې کاروونکي کولی شي خپل د انټرنیټ راز ساتنه باندې ډیر کنټرول ولري.





## امنیت

ډیجیټل ټیکنالوژي ډیری هوساینې او ارزښت لرونکي معلوماتو ته بې ساری لاسرسی برابروي. په هرصورت، دا نوي امنیتي خطرونه هم وړاندې کوي چې تاسې غواړئ وړباندې پوهه شئ ترڅو ستاسې شخصي معلومات او ستاسې راز ساتنه خوندي اوسي.




ډیری تلیفونونه یا نورې ګرځنده وسیلې د امنیتي کوډ یا ستاسې د ګوتو نښو سره لاک کیدی شي. د خپلې وسیلې لاک کول یا کولپ کول ستاسې وسیله کې ذخیره کړې معلوماتو ته د نا آشنا خلکو د لاسرسي مخنیوی کوي لکه عکسونه، بریښنالیکونه یا د پیغام مینځپانګه، او د حساب معلومات.

آنلاین حسابونه عموماً د کاروونکي نومونو (اکثر بریښنالیک پتې) او پاسورډ ته اړتیا لري کوم چې اضافي امنیت وړاندې کوي. دا ستاسې حسابونو او معلوماتو ته د لاسرسي څخه د هیکرانو (آنلاین غلو) مخنیوي کې مرسته کوي. د انټرنیټي امنیت ماهرین مشوره ورکوي چې عام خلک دې خپل رمز یا پاسورډ د هغه خلکو سره نه شریکوي څوک چې نه پیژني یا باور وړباندې نلري. هغوی دا سپارښتنه هم کوي چې تاسې د هر حساب لپاره بوشان پاسورډ ونه کاروئ. ماهرین دا هم وایي چې تاسې د نا آشنایانو یا هغه خلکو سره چې نه یې پیژنئ یا باور وړباندې نلرئ خپل تلیفون مه شریکوئ.

ځینې وختونه، تاسې شاید وغواړئ یو عامه یا شریک کمپیوټر وکاروئ. د مثال په توګه، د امریکا متحده آیالاتو کې ډیری کتابتونونه خلکو ته کمپیوټرونه او وړیا انټرنیټ ته لاسرسی برابروي. په هرصورت، که تاسې عامه کمپیوټر کاروئ، ډاډ لاسته راوړئ چې تاسې پوهه شئ څنګه په سم ډول خپلې پرانیستې برنامې وتړئ ترڅو ستاسې هیڅ شخصي معلومات په کمپیوټر کې خوندي نشي. دلته عموماً لارښووني ورکول کیږي یا د کتابتون کارمند تاسې سره مرسته کولی شي.

## ماشومان او انټرنیټ

انټرنیټ ماشومانو ته هرډول تعلیمي او ټولنیز فرصتونه برابروي. هغوی اړ دي زده کړي چې څنګه ډیجیټل ټیکنالوژي وکاروي ترڅو په ښوونځي کې مخته لاړ شي او په ژوند کې بریالي شي. ماشومان اړتیا لري چې هغوی ته ښودنه وشي څنګه د عکسونو یا د خپلو ځانونو په اړه معلوماتو شریکولو په اړه ښه قضاوت په کار واچوي، په انټرنیټ کې خپل وخت نه څنګه ښه ګټه پورته کړي، او څنګه خپل محرمیت او معلومات خوندي کړي. ډیری ډیجیټل وسیلې او ځینې د وای فای پلانونه د والدین



Meredith Hutchison/IRC


د کنټرول تنظیمات لري چې والدین باید وړباندې پوهه شي او د خپلو ماشومانو د انټرنیټ فعالیت نظارت کولو لپاره یې وکاروي.

## تلیفون او د ډیټا لګښتونه

د ګرځنده تلیفونو له لارې د ملګرو او کورنۍ سره په اړیکه کې پاتې کیدل یو څه اسان وي حتی که هغوی ډیر لیرې هم وي. د امریکا متحده آیالاتو کې، خلک د تلیفون پلانونه یا کڅوړې پیرې چې د ټاکلي میاشتني فیس لپاره د غږیدو، متن پیغام او ډیټا کڅوړې وړاندیز کوي. د دې پلانونو لګښت د دې له مخې توپیر سره لري چې تاسې څو تلیفونونو ته اړتیا لرئ، تاسې به یې څومره کاروئ، او څنګه به کارول کیږي. ځینې فعالیتونه لکه د بریښنالیکونو لیږل ډیره کمه ډیټا کاروي، مګر نور فعالیتونه لکه د ویډیوګانو کتل، د موسیقۍ اوریدل، یا د عکسونو لیږل ډیره ډیټا کارولی شي چې دا بیا د تلیفون لګښتونه خورا ډیروي. که تاسې په خپل کور کې د تلیفون او کمپیوټر څو کاروونکي لرئ، تاسې اړ یې په خورا توجه سره او د خپلې بودیجې مطابق د خپلې کورنۍ د ډیټا استعمال نظارت کړئ. تاسې همدارنګه د نامحدود ډیټا یا د وای فای شبکې د پیرلو پریکړه کولی شئ.

## د مهاجرینو لپاره ډیجیټل سرچینې

که تاسې غواړئ د امریکا متحده آیالاتو کې د بیا میشتیدنې او کلتوري لارښود په اړه ډیجیټل معلوماتو ته لاسرسی ولرئ نو تاسې کولی شئ د CORE د بیا میشتیدنې چلوونکي ویب سایټ (**https://corenav.org/**) ته ورشئ یا هم کولی شئ د ګرځنده تلیفون *Settle In* اپ ډاونلوډ کړئ چې د دې په اړه دلته معلومات کتلی شئ **https://corenav.org/en/settle-in/**



که تاسې غواړئ د ډیجیټل وسایلو کارولو او د خپل محرمیت او معلوماتو محافظت کولو په اړه نور معلومات لاسته راوړئ، نو د ډیجیټل سواد ټولګیو په اړه خپل د بیا میشتیدنې دفتر کې د کارمندانو نه پوښتنه وکړئ کوم چې ممکن ستاسې ټولنه کې موجود وي.


**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910

For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.


The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government.


**This material is in the public domain and may be reproduced.**